Pashto

# عالي لېسه او فراغت



د Nova Scotia د عالي لېسې پروګرام د درسونو پراخ لړ وړاندې کوي تر څو زده کوونکي د لېسې وروسته ژوند لپاره چمتو کړي .

په Nova Scotia کې عالي لېسه

- په دا کې د 10، 11 او 12 صنفونو درسونه پکې شامل دي
- دوه سمسټرونه لري — لومړی سمسټر له سپټمبر څخه تر جنوري پورې وي، او دوهم سمسټر له فبروري څخه تر جون پورې وي
- د حکومت له خوا تمويلېږي، نو د ګډون لپاره مستقیم لګښت نه لري
- د ټولو زده کوونکو لپاره تر هغه وخته پرانیستې ده تر څو چې هغوی 21 کلنۍ ته ورسېږي

هغه کورسونه چې په لېسو کې موجود دي د Nova Scotia Curriculum په ویبپاڼه کې لېست شوي دي. ځینې ښوونځي ممکن اضافي کورسونه هم وړاندې کړي.

## ژوند په لېسه کې

**ټولګي څنګه تنظیم شوي دي:** زده کوونکي عموماً له سپټمبر څخه تر جنوري پورې څلور کورسونه لولي، او بیا له فبروري څخه تر جون پورې نور څلور بېلابېل کورسونه لولي.

- هر زده کوونکي ته د هر تعلیمي کال یا سمسټر په پیل کې د ټولګیو شخصي مهالویش ورکول کېږي.
- ښوونځي ورځ په د وخت په برخو وېشي چې هغو ته period (د زده کړو وخت) ویل کېږي. په ډېرو ښوونځیو کې زده کوونکي د ورځې په اوږدو کې له یوه ټولګي څخه بل ټولګي ته ځي کله چې period او درسونه بدل شي. د زده کوونکي د کورسونو د شمېر له مخې کېدای شي هغوی یو ازاد period ولري چې پکې درس نه وي.

**حاضري:** په لېسه کې د کورس کریډیټ ترلاسه کولو لپاره د زده کوونکي نه تمه کېږي چې لږ تر لږه د ټولګي 80٪ وخت حاضر وي. د نورو معلوماتو لپاره د *Student Attendance and Engagement Policy* وبسایټ وګورئ.

**Student-Parent Portal (د زده کوونکي او والد پورټل):** د زده کوونکو معلومات په یوه بریښنايي سیستم کې اداره کېږي چې PowerSchool نومیږي، او پکې یو Student-Parent Portal هم شامل دی چې د ټولګیو مهالویش، دندې، نمرې، حاضرۍ، د ښوونکو تبصرې او د ښوونځي خبرتیاوې وړاندې کوي.

- زده کوونکي او والدین/سرپرستان دواړه کولای شي دې پورټل ته لاسرسی ولري.
- د ښوونځي د دفتر کارکوونکي کولای شي username او password درکړي.
- دغه پورټل ته د لاسرسي لپاره دا ویبپاڼه وګورئ: www.ednet.ns.ca/inschool/students_parents.

## د راتلونکي لپاره پلان جوړول

کله چې زده کوونکي لېسه پیل کړي، هغوی ته د کورسونو بېلابېل انتخابونه وړاندې کېږي. هغه کورسونه چې زده کوونکي يې انتخابوي کولی شي د هغوی پر لوړو زده کړو او مسلکي انتخابونو اغېزه وکړي.

زده کوونکي او والدین/سرپرستان هڅول کېږي چې

- د زده کوونکي د علاقو، وړتیاوو او مهارتونو په اړه یو له بل سره خبرې وکړي
- د کورسونو د انتخاب او د لېسې وروسته د ژوند په اړه د ښوونځي له مشاور سره خبرې وکړي
- هغه کورسونه وڅېړي چې د له ثانوي زده کړو وروسته دوره او/یا مسلکي موخو سره سمون ولري
- د کورس انتخاب په اړه د ښوونځي پریزنټېشنونو او معلوماتي غونډو کې ګډون وکړي
- پلانونه په منظم ډول بیاکتنه کړي اود اړتیا په صورت کې بدلون پکې راولي

**د ښوونځي مشاورین:** د ښوونځي مشاورین د زده کوونکو، کورنیو او ښوونځیو لپاره د همکارۍ پر بنسټ د بېلابېلو خدماتو په وړاندې کولو کې مهارت لري. د هغوی خدمات داسې مخکښ او ځواب ورکوونکي طریقې شاملوي چې د زده کوونکو د ذهني روغتیا، هوساینې او پرمختګ، د زده کړې او بریا، او د ژوند بدلون او مسلکي پلان ملاتړ کوي.

**MyBlueprint:** My Blueprint د زده کوونکو لپاره یو اسانه تعلیمي او د مسلک/ژوند پلان جوړونې وسیله ده چې زده کوونکو ته اجازه ورکوي د کار بازار معلومات، خپلې وړتیاوې، علاقې او راتلونکي تعلیمي او مسلکي لارې وپلټي. زده کوونکي کولای شي سیستم ته ننوځي تر څو د خپلې زده کړې په اړه فکر وکړي، خپل پرمختګ وښیي او خپلې لاسته راوړنې شریکې کړي. د کورنۍ غړي هم کولی شي د MyBlueprint حساب جوړ کړي ترڅو د زده کوونکي د زده کړې او مسلکي پلان جوړونې کې مرسته وکړي. د لاسرسي د برابرولو لپاره زده کوونکی کولی شي د کورنۍ د غړي د لینک غوښتنه تایید کړي.

**Nova Scotia Works School Liaisons:** دا Nova Scotia Works School Liaisons د ولایت په ښوونځیو کې ټاکل کېږي تر څو د کار بازار معلومات، د زده کوونکو لپاره د فرصتونو لاسرسی، د زده کوونکو او کورنیو لپاره د مسلکي پلان جوړونې ورکشاپونه او نور خدمات وړاندې کړي.

**دا وېبسایټ وګورئ** Nova Scotia Works Schools Liaisons (NSWSLs) & Let's Talk Careers تر څو خپل نږدې NSWSL ومومئ.

## د فراغت لپاره د کورسونو انتخابونه

High School Graduation Diploma (د لیسې د فراغت سند) هغو زده کوونکو ته ورکول کېږي چې لږ تر لږه 18 د لېسې د پروګرام کورس کریډیټونه په بریالیتوب سره بشپړ کړي وي. د کورس بریالی بشپړول دا معنا لري چې زده کوونکي په هغه کورس کې 50٪ یا تر دې لوړه نمره ترلاسه کړې وي. هر کورس عموماً د 1 کریډیټ ارزښت لري.

- **د فراغت لپاره اړین 18 کورس کریډیټونه باید لاندې شامل کړي:**
  - له 7 کریډیټونو څخه زیات د 10 ټولګی په کچه نه وي

    او

  - په 12 ټولګی کچه کې لږ تر لږه 5 کریډیټونه

- **13(د 18 کریډیټونو څخه) باید له لاندې برخو څخه بشپړ شي :**
  - 3 د language arts کریډیټونه (په هر ټولګی کچه کې 1)
  - 3 د mathematics کریډیټونه (په هر ټولګی کچه کې 1)
  - 3 د science او technology کریډیټونه
  - 3 د personal development او society کریډیټونه
  - 1 د arts کریډیټ

- **پاتې 5 (په 18 کریډیټونو څخه) به د اختیاري کورسونو څخه وي:**
  - په Nova Scotia ښوونځیو کې د اختیاري کورسونو بیلابیل ډولونه وړاندې کیږي.
  - که دا پروګرامونه منظور شوی عرضه کوونکی له خوا وړاندې شوی وي، هغه زده کوونکي چې په کوم ټولنیز پروګرام یا نورو له نصاب څخه بهر فعالیتونو کې برخه اخلي، ممکن یو کریډیټ ترلاسه کړي.

    هر ښوونیز کال د پوهنې او د ماشومتوب د لومړنیو زده کړو څانګه د "Approved Provider and Course List" خپروي.
  - زده کوونکي کولی شي اضافي کورسونه هم بشپړ کړي (د فراغت لپاره له اړینو 18 کریډیټونو څخه زیات) تر څو د هغوی د علاقو او اهدافو سره برابر وي.

### مخکینی زده کړه

که ممکن وي، د پخوانیو زده کړو اسناد، د نمرو راپور یا د زده کړو راپور کارت وړاندې کړئ تر څو ښوونځی وکولای شي تایید کړي چې ستاسو د پخوانی زده کړې لپاره څو د لیسې کریډیټونه ورکول کېدای شي. دا ګټوره ده چې دغه اسناد د تصدیق شوی ژباړن له خوا انګلیسي یا فرانسوي ته وژباړل شي.

**د دې لپاره چې ډاډ ترلاسه شي چې د فراغت شرایط پوره کیږي، زده کوونکي څخول کیږي چې د کورس انتخاب د بیاکتنې لپاره د ښوونځي مشاور سره اړیکه ونیسي .**

**د کورسونو د انتخاب په اړه د نورو معلوماتو لپاره د خپل ښوونځي ویبپاڼه وګورئ.**

## د لیسې نور کورسونه او پروګرامونه

زده کوونکي د خپلې د لیسې د فراغت سند د ترلاسه کولو پر مهال کولای شي لاندې کورسونه یا د سند پروګرامونه هم بشپړ کړي چې د ځانګړو مسلکي لارو او علاقو لپاره طرحه شوي دي. زده کوونکي باید له خپل ښوونځي سره وګوري تر څو تایید کړي چې له لاندې کورسونو یا پروګرامونو څخه کوم یې دوی ته موجود دي.

## Co-operative Education (ګډ تعلیمي برنامه)

Co-operative Education یو تعلیمي کورس دی چې پکې زده کوونکي مهارتونه وده کوي او مسلکي لارې لټوي. زده کوونکي د کار په چاپیریال کې ځای پر ځای کېږي چیرې چې هغوی عملي کاري تجربه ترلاسه کوي، د کار ځای پېژني او د واقعي ژوند پوهه، مهارتونه او چلندونه ترلاسه کوي چې د مسلک لپاره اړین دي. زده کوونکي باید 16 کلن وي؛ یا که 15 کلن وي، باید لږ تر لږه د 11 ټولګي کال یې پیل کړی وي. زده کوونکي باید د دې کورس لپاره د خپل ښوونځي د Co-op پروګرام ښوونکي ته غوښتنلیک وسپاري.

## High Skills Major Certificate (د لوړو مهارتونو د تخصص سند)

د High Skills Major پروګرام زده کوونکو ته اجازه ورکوي چې د کورسونو د بشپړولو او د واقعي تجربو د ترلاسه کولو پر مهال د لیسې ډپلوم لپاره کریډیټونه ترلاسه کړي. د ښوونځي د پروګرامونو له مخې زده کوونکي کولای شي د لاندې له پنځو سندونو څخه یو ترلاسه کړي: Arts، Digital Innovation and Technology، Early Childhood Education، Health and Wellness، او Skilled Trades

## Options and Opportunities (O2) (اختیارونه او فرصتونه)

د Options and Opportunities ($O_2$) یو درې کلن پروګرام دی چې زده کوونکو ته په ټولنه او کاري ځایونو کې بېلابېل تجربې وړاندې کوي. په دې پروګرام کې تعلیمي سفرونه، مېلمه ویناوال، د خدمت زده کړه، د ټولنې پر بنسټ پروژې، لارښوونه او د co-operative education څو کریډیټونه شامل دي. په دې ډول زده کوونکي کولای شي ښوونځی له مسلکي لارې سره ونښلوي او د لیسې وروسته د خپلو راتلونکو پرېکړو په اړه ښه تصمیم ونیسي.

- **هغه زده کوونکي چې د O2 سره علاقه لري باید په 9 ټولګي کې غوښتنلیک ورکړي.** په هر ښوونځي کې هر کال یوازې 20 څوکۍ شتون لري.

## Skilled Trades (مسلکي کسبونه)

د Skilled Trades کورسونه د کار ځای، وسایل، تجهیزات او هغه طریقې نقلوي چې په صنعت کې کارول کېږي. زده کوونکي کولای شي په خوندي او عملي ډول زده کړه وکړي. د زده کوونکي هغه چلندونه، مهارتونه او پوهه وده کوي چې د ژوند، کار او زده کړې د اړتیاوو د پوره کولو لپاره اړین دي. زده کوونکي چې د یو تصدیق شوی ماهر مسلکي کارګر له خوا روزل کېږي، یا د co-op placement پر مهال د یو تصدیق شوی ماهر مسلکي کارګر تر څارنې لاندې وي، کولی شي د د مسلک تصدیق لپاره ساعتونه ترلاسه کړي.

## Youth Apprenticeship (د ځوانانو شاګردۍ برنامه)

په Nova Scotia کې یو ځوان کولای شي د youth apprentice په توګه ثبت شي که هغه د 16 څخه تر 19 کلونو عمر ولري او په Nova Scotia کې په یو ټاکلي مسلک کې نیمه وخت یا بشپړ وخت کار وکړي. د ثبت لپاره هیڅ فیس نشته . Youth apprentices د زده کړې پر مهال معاش هم ترلاسه کوي او د مسلکي کار لپاره مخکینی پیل کوي.

د Youth apprenticeship پروګرام زده کوونکو ته فرصت ورکوي چې د عامه ښوونځي په سیسټم کې پاتې کېدو پر مهال د یو مسلک عملي زده کړه ترلاسه کړي. هغه ځوانان چې د یو ټاکلي مسلکي کسب په برخه کې د تصدیق شوی ماهر مسلکي کارګرتر نظارت لاندې کار کوي، کولی شي د د مسلک تصدیق لپاره اړین ساعتونه راټول کړي.

د نورو معلوماتو لپاره د Youth Apprenticeship ویبپاڼه وګورئ .

## د فرانسوي ژبې پروګرامونه

هغه زده کوونکي چې په anglophone ښوونځیو کې زده کړه کوي، کولای شي د اړینو کورسونو په بریالی بشپړولو سره لاندې سندونه ترلاسه کړي:

- د French Immersion Certificate

- د Integrated French Certificate

### نړیوال بکلوریا(IB)

د International Baccalaureate (IB) Diploma Program یو نړیوال پیژندل شوی بشپړ تعلیمي پروګرام دی چې په ټولګي 11 او 12 کې په نړۍ کې په 156 هیوادونو کې وړاندې کېږي. اوس مهال په Nova Scotia کې 13 IB ډیپلوم ښوونځي شتون لري. د دې معلوماتو لپاره چې ایا ستاسو په ښوونځي کې IB وړاندې کېږي، د ښوونځي مشاور سره اړیکه ونیسئ.

د IB پروګرام د نړۍ په پوهنتونونو کې پیژندل شوي او زده کوونکي کولای شي د IB کورس(ونو) لپاره د پوهنتون کریډیټ ترلاسه کړي.

## ویشل شوي زده کړې (آنلاین زده کړې)

زده کوونکي په 10–12 ټولګي کې چې غواړي یا اړتیا لري د لېسې کورس واخلي چې په خپل محلي ښوونځي کې وړاندې نه کېږي، یا د خپل مهالویش سره سم نه وي، کولای شي د آنلاین ویشل شوي زده کړې پروګرام له لارې کورس واخلي.

- د ویشل شوي زده کړې پروګرامونه د عامه ښوونځیو زده کوونکو لپاره وړیا دي.
- زده کوونکي د مخامخ کورسونو په شان معیارونو سره ارزول کېږي.
- دا لاره د هغو زده کوونکو لپاره غوره ده چې په ټکنالوژۍ او آنلاین زده کړې کې مهارت لري او ځان ته د زده کړې لارښونه کولی شي.

### Nova Scotia Virtual School (NSVS) / l'École virtuelle au CSAP (ÉVCSAP)

د NSVS او ÉVCSAP کورسونه د Nova Scotia عامه ښوونځي ښوونکو لخوا د ښوونځي په ورځ کې تدریس کېږي. زده کوونکي باید د خپلو ورځنیو درسونو مهالویش کې ځای ولري تر څو په دې آنلاین کورسونو کار وکړي او د مجازي ښوونکي او ټولګیوالو سره آنلاین وګوري.

### د Nova Scotia خپلواکه آنلاین زده کړې(NSIOL)

زده کوونکي په NSIOL کورسونو کې په خپلواک ډول او آنلاین زده کړه کوي. د کورس لارښود، چې یو جواز لرونکی ښوونکی دی، د کورس په جریان کې 8–10 ځله په ماښامونو یا اونۍ پای کې د زده کوونکو سره آنلاین ملاقات کوي. لارښود زده کوونکو سره د زده کړې مهالویش جوړولو کې مرسته کوي او د کورس له لارې یې لارښوونه کوي، خو درس نه ورکوي.

زده کوونکي د 1 کریډیټ کورس بشپړولو لپاره تر 18 میاشتو، د 2 کریډیټ کورس لپاره تر 24 میاشتو، او د یوه تعلیمي واحد بشپړولو لپاره تر 6 میاشتو وخت لري. د NSIOL ویبپاڼه اضافي معلومات لري، پشمول د اوسني او راتلونکو کورسونو لست.

- د NSVS او NSIOL کورسونه د English او French Immersion پروګرامونو لپاره په هر Regional Centre for Education (RCE) کې شتون لري.
- د ÉVCSAP کورسونه په فرانسوي ژبه کې د هغو زده کوونکو لپاره شتون لري چې د Conseil scolaire acadien provincial (CSAP) ښوونځیو کې ګډون کوي .

د نورو معلوماتو لپاره د ویشل شوي زده کړې ویبپاڼه وګورئ یا د ښوونځي مشاور سره خبرې وکړئ چې معلومه کړي آیا ویشل شوې زده کړې ستاسو لپاره مناسب دی. زده کوونکي کولای شي د کورس انتخاب پر مهال په خپل ښوونځي کې آنلاین کورسونو ته نوم لیکنه وکړي.

## ولایتي ازموینې

Nova Scotiaلاندې کورسونو کې ولایتي ازموینې ترسره کوي :

- Mathematics 10 (10 ټولګی ریاضی)
- Mathématiques 10 (10 ټولګی ریاضی به فرانسوی ژبه)
- English 10 (10 ټولګی انګلیسي)
- Français 10 (CSAP) (10 ټولګی فرانسوی)

ولایتي ازمویني د کورس په وروستي نمره کې ٪20 حسابیږي.

- هغه زده کوونکي چې په دې کورسونو کې شامل دي، اړ دي چې د ولایتي ازمویني مربوطه برخه ولیکي.
- •هغه زده کوونکي چې په English 10 ، Français 10، یا Mathematics 10 کې **د انفرادي پروګرام پلان (IPP)** لري، دا ولایتي ازمویني نه ورکوي.
- زده کوونکي چې **انګلیسی یا فرانسوی د اضافي ژبې په توګه زده کوي،** ممکن اړ نه وي چې دا ازموینه ورکړي. د ښوونځي مدیر، د ښوونکو، والدینو/سرپرستانو، او زده کوونکي سره په مشوره، به معلومه کړي چې کوم ازمویني اړینې دي د زده کوونکي د اوسنیو ژبنیو مهارتونو پر اساس.
- هغو زده کوونکو ته چې اضافي ژبه زده کوي اجازه ورکول کېږي چې **بریښنایي ژباړن او/یا دوه ژبنی قاموس وکاروي.** که اړتیا وي، اضافي وخت به هم ورکړل شي .

د زده کوونکو د ارزونې برخه د پوهني او د ماشومتوب د لومړنیو زده کړو ویبپاڼه کې د Nova Scotia ازموینو په اړه اضافي معلومات لري.

## د اړیکو معلومات

د نورو معلوماتو لپاره، له خپل Regional Centre for Education (RCE) یا Conseil scolaire acadien provincial (CSAP) سره اړیکه ونیسئ.

- **Annapolis Valley Regional Centre for Education** (AVRCE)
- **Cape Breton-Victoria Regional Centre for Education** (CBVRCE)
- **Chignecto-Central Regional Centre for Education** (CCRCE)
- **Conseil scolaire acadien provincial** (CSAP)
- **Halifax Regional Centre for Education** (HRCE)
- **South Shore Regional Centre for Education** (SSRCE)
- **Strait Regional Centre for Education** (SRCE)
- **Tri-County Regional Centre for Education** (TCRCE)
- **SchoolsPlus** مختلف خدمات وړاندې کوي او په Nova Scotia کې په هر ښوونځي کې شتون لري.

د خپلې کورنۍ د ملاتړ لپاره، د لاندې پروګرامونو سره اړیکه ونیسئ:

- **YMCA School Settlement** په ټوله ولایت کې شتون لري
- **YREACH** د Halifax Regional Municipality (HRM) بهر شتون لري
- **Immigration Francophone** د School Settlement Worker له لارې شتون لري

20260306